# د نوماندانو د نوم ثبتولو کړنلار

**اساس:**

دا کړنلار د ټاکنو د قانون د ( ۷۹) مادې پر بنسټ د ټاکنو خپلواک کمیسیون (له دې وروسته کمیسیون) تصویب شو.

**موخه:**

دا کړنلاره د ټاکنو د قانون د ( ۱۳)، ( ۱۵)، ( ۱۹)، ( ۴۵)، ( ۲۶) او (۴۷)مادو حکمونو او د کمیسیون د تشکیل، دندو او واکونو قانون د (۱۴) مادې (۱۳) بند ته په پام د ۱۳۹۳ کال د ولسمشریزو او ولایتي شوراګانو د نوماندانو د نوم ثبتولو اړوند چارې تنظیموي.

**د نوم ثبتولو موده او شرطونه:**

لومړۍ ماده:

(۱)کمیسیون د نوماندانو د نوم ثبتولو د پیل او پای نېټه ټاکي او ټاکنیز مهال وېش ته په پام یې رسماً ټولو ته اعلانوي.

(۲) غوښتنلیک ورکوونکي کولی شي په ټاکلې موده کې، په لیکلي ډول کمیسیون په ټاکنو کې د نوماند په توګه له خپل ګډون څخه خبر کړي.

(۳) څوک چې د سیاسي ګوند یا ټلوالې له خوا کومې انتخابي حوزې ته ځان نوموي، نو د نوماندې پرمهال دې د اړوند ګوند یا سیاسي ټلوالې له رسمي او ټاپه شوي سند سره چې د هغه استازولي وښیې راشي.

(۴)غوښتنلیک ورکوونکي د نوم ثبتولو غوښتنې پرمهال مکلف دي ، هغو ټاکنو ته په پام چې د نوماند په توګه په کې ګډون کوي لاندې معلومات بشپړ او کمیسیون ته وړاندې کړي.

الف: د ولسمشري نوماند:

۱: د نوم ثبتولو په موخه د نوماندي لیکلی غوښتنلیک، د کمیسیون په فورمو کې،

۲: د دین، افغانیت او د زوکړې دقیقې نېټې (څلوېښت کلن وي) د تثبیت په موخه د تابعیت تذکره.

۳: روغتیایي تصدیق.

۴: د اصلي او اوسني استوګنځي په هکله دقیق معلومات.

۵: له دولتي دندې څخه د استعفی پروسیس شوی تصدیق چې د ټاکنو قانون د (19) مادې په ( ۱) بند کې ثبت دی (د ستري محکمې ریس، غړي او قاضیان، لوی څارنوال، د څارنوالۍ څارنوالان او مسلکي غړي، وزیران، سلاکار وزیران، د ولسمشر سلاکاران، مستقل عمومي ریسان، د خپلواکو کمیسیونونو ریس او غړي، د وزارتونو معینان او سلاکاران، والیان او

د هغو مرستيالان، ولسوالان، سفيران او په بهر کې د سياسي نمايندګيو
کار کوونکي، د ملي دفاع او کورنيو چارو وزارتونو او د ملي امنيت د
عمومي رياست نظامي منسوبين او د نظامي تشکيلاتو لرونکي ټول
وزارتونه او اداري، د ملکي خدمتونو مامورين، د ټاکنو خپلواک
کميسيون موقت او دايمي کار کوونکي، د لوړو زده کړو دولتي موسسو
استادان، د افغانستان د اسلامي جمهوريت د علومو اکاډمي د کدر او
انتخابي ځوکيو غړي د مشرانو جرګې د انتصابي غړو په ګډون چې غواړي
بلې انتخابي ځوکۍ ته ځان نوماند کړي، مکلف دی چې د موجوده ځوکۍ له
غړيتوب څخه استعفا ورکړي.)

۶: د غوښتنليک ورکوونکي د منقولې او غيرمنقولې شتمنۍ په هکله د
کميسيون په ټاکلو فورمو کې دقيق معلومات .

۷: د رای ورکولو په شرايطو برابر د سل زره تنو د رای ورکولو کارت
شمېرې، نومونه د هغوی ګوتې نښان ، لږ ترلږه له شلو ولايتونو څخه دوه
دوه سلنه،

۸: د ولسمشري نوماند د مرستيالانو نومونه.

۹: د يو مليون افغانيو د سپارلو بانکي رسيد،

ب: د ولسمشري د نوماند مرستيالان:

د دې کړنلارې د لومړۍ مادې په الف بند کې د ولسمشرۍ نوماند لپاره
ټول وړاندېز شوي شرايط له ( ۷،۸ او ۹) مادو پرته د ولسمشري نوماند
د مرستيالانو په هکله هم د پلي کېدا وړ دي.

ج: د ولايتي شورا نوماندان:

۱: د نوم ثبتولو په موخه د نوماندي ليکلی غوښتنليک، د کميسيون په
فورمو کې،.

۲: د دين، افغانيت او د زوکړې دقيقې نېټې (پنځه ويشت کلن وي) د
تثبيت په موخه د تابعيت تذکره.

۳: روغتيايي تصديق.

۴: د اصلي او اوسني استوګنځي په هکله دقيق معلومات.

۵: د رای ورکولو کارت

۶: له دولتي دندې څخه د استعفی پروسيس شوی تصديق چې د ټاکنو قانون
د (19) مادې په ( ۱) بند کې ثبت دی (د سترې محکمې ريس، غړي او
قاضيان، لوی څارنوال، د څارنوالي څارنوالان او مسلکي غړي، وزيران،
سلاکار وزيران، د ولسمشر سلاکاران، مستقل عمومي ريسان، د خپلواکو
کميسيونونو ريس او غړي، د وزارتونو معينان او سلاکاران، واليان او
د هغو مرستيالان، ولسوالان، سفيران او په بهر کې د سياسي نمايندګيو
کار کوونکي، د ملي دفاع او کورنيو چارو وزارتونو او د ملي امنيت د
عمومي رياست نظامي منسوبين او د نظامي تشکيلاتو لرونکي ټول
وزارتونه او اداري، د ملکي خدمتونو مامورين، د ټاکنو خپلواک
کميسيون موقت او دايمي کار کوونکي، د لوړو زده کړو دولتي موسسو
استادان، د افغانستان د اسلامي جمهوريت د علومو اکاډمي د کدر او
انتخابي ځوکيو غړي د مشرانو جرګې د انتصابي غړو په ګډون چې غواړي

بلې انتخابي څوکۍ ته ځان نوماند کړي، مکلف دی چې د موجوده څوکۍ له غړیتوب څخه استعفا ورکړي.)

د کمیسیون په فورمو کې د منقولې او غیر منقولې شتمنۍ په اړه د معلوماتو برابرول،

۷: له معتبرو تعلیمي او تحصیلي موسسو او مراجعو څخه تاید شوی تحصیلي سند (لږ تر لږه د دولسم ټولګي د فراعت سند)

۸: د شل زره افغانیو سپارلو بانکي رسید.

۹: لاندې جدول کې ثبت شمېر ته په پام د رای ورکولو په شرایطو برابر و کسانو نوملړ د هغو ګوتې له نښان سره ،

| د ولایتي شوراګانو د نوماندانو د ملاتړو شمېر | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ګڼه | ولایت | د ملاتړو شمېر | ګڼه | ولایت | د ملاتړو شمېر |
| 1 | کابل | 600 | 18 | پکتیا | 250 |
| 2 | هرات | 500 | 19 | جوزجان | |
| 3 | ننګرهار | 400 | 20 | فراه | |
| 4 | بلخ | | 21 | بادغیس | |
| 5 | غزنی | 350 | 22 | دایکندی | |
| 6 | کندهار | | 23 | کنرها | |
| 7 | کندز | | 24 | بامیان | |
| 8 | فاریاب | | 25 | لغمان | |
| 9 | تخار | | 26 | کاپیسا | |
| 10 | بدخشان | | 27 | پکتیکا | |
| 11 | هلمند | 300 | 28 | لوګر | |
| 12 | بغلان | | 29 | سمنګان | |
| 13 | غور | | 30 | ارزګان | |
| 14 | پروان | | 31 | زابل | 200 |
| 15 | وردک | 250 | 32 | نیمروز | |
| 16 | خوست | | 33 | پنجشیر | |
| 17 | سرپل | | 34 | نورستان | |

د پورتنیو معلوماتو نه بشپړولو په صورت کې د هغوی د نوم ثبتولو غوښتنلیک نه منل کېږي.

۵ د ولسمشرۍ د نوماندې لپاره غوښتنلیک ورکوونکي مکلف دي چې د نوم ثبتولو غوښتنلیکونه په خپله د ټاکنو خپلواک کمیسیون دارالانشا کې برابر کړي.

۶: د ولایتي شوراګانو غوښتنلیک ورکوونکي دې خپل غوښتنلیکونه په خپله د ټاکنو خپلواک کمیسیون اړوند ولایتي دفتر کې ورکړي.

۷: کوچیان کولی شي په هر ولایت کې د نوماند په توګه د ولایتي شورا په ټاکنو کې ګډون وکړي.

۸: هیڅوک نه شي کولی په یو وخت کې په دوه ټاکنیزو حوزو او یا له یوې څخه د زیاتو انتخابي څوکیو لپاره ځان ونوموي، د سرغړونې پرمهال یې نوم له دواړو ټاکنیزو حوزو څخه ایستل کېږي.

۹: هغه غوښتنلیک ورکوونکی چې د دې کړنلارې د لومړۍ مادې شرایط یې پوره کړي وي، د نوماندانو په لومړني نوملړ کې شاملېدلی شي.

۱۰: د نوماندانو د نوم ثبتولو لپاره د ټاکلې مودې له تېرېدو وروسته ، د نوم ثبتولو غوښتنلیک نه منل کېږي.

۱۱: د کمیسیون دارالانشا د اړتیا په وخت کې د پورتنیو چارو د سم تنظیم په موخه جلا کړندودونه وضع کوي.

<u>د ولسمشري نوماندانو د تابعیت تثبیت:</u>

دویمه ماده:

کمیسیون د نوماندانو د لومړني نوملړ له خپرولو وروسته، په نوملړ کې د شاملو نوماندانو شهرت د افغاني تابعیت د لرلو او د بل هېواد دتابعیت د نه لرلو د تثبیت لپاره اړوندو مراجعو ته ور استوي.

<u>د ولایتي شوراګانو د نوماندانو په نوملړ کې د ښځو نه شتون:</u>

دریمه ماده:

کله چې د ولایتي شورا د نوماندانو په لومړني نوملړ کې د ځانګړو شویو څوکیو لپاره کافي شمېر ښځې نه وي،نو د ښځو چارو وزارت او ولایتي ریاستونه یې د ښځو چارو په برخه کې له ټولو فعالو بنسټونو سره په سلا او تفاهم او د معرفي شویو ښځو په موافقه له همغه ولایت څخه د ښځو وروستی نوملړ (د رای ورکوونکي په توګه یې په همغه ولایت کې نوم ثبت کړی وي) په ټاکلي وخت کې برابروي او کمیسیون ته یې سپاري.

<u>د نښان انتخاب:</u>

څلورمه ماده:

(۱)د ولسمشري نوماندان:

۱: د ولسمشري ټاکنو د نوماندانو انتخابي نښان د پچې له مخې ټاکل کېږي او په رای پاڼه کې انعکاس مومي.

۲: خپلواک نوماندان کولی شي هغه نښانونه چې په خپله یې برابر کړي د تصویب لپاره کمیسیون ته وړاندې کړي.

۳: د ګوندونو یا سیاسي ټلوالو له لوري معرفي شوي نوماندان کولی شي د اړوند ګوند یا سیاسي ټلوالې نښان انتخاب کړي.

۴: د کمیسیون له لوري د برابر شوي نښان د انتخاب په هکله پچې ته په پام د سیاسي ګوندونو د نوماندانو لپاره هیڅ ډول محدودیت نشته.

۵: د شخص عکس، دولتي نښانونه او د ټولو بنسټونو ثبت شوي سمبولونه د ټاکنیز نښان په توګه نه منل کېږي.

(۲)د ولایتي شوراګانو نوماندان

۱: د ولايتي شوراګانو د نوماندانو ټاکنيز نښان د پچې له مخې ټاکل کېږي او په رای پاڼه چاپېږي.
۲: د شخص عکس، دولتي نښانونه او د ټولو بنسټونو ثبت شوي سمبولونه د ټاکنيز نښان په توګه نه منل کېږي.

<u>د نوماندانو لومړنی نوملړ:</u>

پنځمه ماده:

(۱)کميسيون د نوماندانو د نوم ثبتولو له دورې وروسته لومړنی نوملړ د غوښتنليکونو له مخې برابروي. په دې نوملړ کې نوم، د نوماند ځانګړې شمېره، عکس او انتخاباتي نښان وي.

(۲)کميسيون د نوماندانو لومړنی نوملړ رسمي اعلانوي او ( ۸) ورځې يې د عامو خلکو د کتلو لپاره وړاندې کوي.

۳: نوماندان کولی شي د لومړني نوملړ د ننداري په دوره کې د نوملړ د معلوماتو سموالی وارزوي.

۴: هغه نوماندان چې په نوملړ کې د شاملو معلوماتو د سمون غوښتنه کوي يا په شرايطو برابر هغه نوماندان چې د بېلابېلو دلايلو پر بنسټ يې نوم په لومړني نوملړ کې نه دی شامل شوی ، د لومړني نوملړ له اعلان وروسته تر اتو ورځو پورې د ټاکنو خپلواک کميسيون مرکزي او اړوندو ولايتي دفترونو ته مراجعه کولی شي.

۵: کميسيون د يو کس د نوماندي غوښتنليک د نه منلو په صورت کې د رد له دلايلو سره يو ځای په ليکلي شکل هغه ته خبر ورکوي.

(۶) هغه غوښتنليک ورکوونکي چې غوښتنليکونه يې کميسيون ردوي د معلوماتو له ترلاسه کولو وروسته تر ۸ ورځو پورې کولی شي د استيناف غوښتلو په موخه د ټاکنيزو شکايتونو کميسيون ته مراجعه وکړي. اړوند کميسيون بايد د موضوع په اړه له خپلې وروستی پرېکړې څخه په رسمي شکل د ټاکنو خپلواک کميسيون خبر کړي.

<u>اعتراضونه:</u>

شپږمه ماده:

(۱) د لومړني نوملړ له خپرولو وروسته د سياسي ګوندونو استازي، نوماندان او د رای ورکولو په شرايطو برابر هر افغان کولی شي په لومړني نوملړ کې د شاملو نوماندانو (د ولسمشرۍ نوماندان، د ولسمشرۍ د نوماند مرستيالان او د ولايتي شوراګانو نوماندان) د شرايطو د نه پوره کولو په هکله اعتراض وکړي.

(۲)اعتراض بايد د نوماندانو د لومړني نوملړ له خپرولو وروسته په (۸) ورځو کې د اعتراضونو په فورمه کې ثبت او د ټاکنيزو شکايتونو کميسيون ته يې تسليم کړي.

(۳) د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون د نوماندانو په شرایطو د برابروالي او نه برابروالي کړنلارې ته په پام تصمیم نیسي.
(۴)د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون باید د اعتراضونو په هکله خپله وروستی پرېکړه د اعتراضونو د ټاکلي دورې له پایته رسېدو دمخه کمیسیون ته وړاندې کړي.
(۵)د ټاکنو خپلواک کمیسیون اړوندو اسنادو ته د لاسرسي په برخه کې، د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون سره مرسته کوي.

<u>له نوماندې څخه تېرېدل:</u>

اومه ماده:

د لومړني نوملړ د انتخابي څوکیو نوماندان باید له نوماندۍ څخه د تېرېدو تصمیم رسماً د وروستي نوملړ له خپرولو دمخه په ټاکلي وخت کې چې ټاکنیز مهال وېش کې مشخص کېږي، په لیکلي ډول کمیسیون ته ورسوي. کله چې نوماند له هغې نېټې وروسته چې د کمیسیون له لوري په ټاکنیز مهال وېش کې ټاکل کېږي، له خپلې نوماندۍ څخه تېر شي یا یې د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون نوم حذف کړي، د رایو د شمېرلو په وخت کې د هغه رایې د محاسبې وړ نه دي، د نوماندانو امانت پیسې یوازې د مړینې او له ټاکنیز مهال وېش سره سم له نوماندۍ څخه د تېرېدو په صورت کې ورکول کېږي.

<u>د نوماندانو وروستی نوملړ:</u>

اتمه ماده:

(۱)کمیسیون د نوماندانو وروستی نوملړ د ټاکنو له ورځې حد اقل ( ۶۰) ورځې دمخه د ټاکنیزو شکایتونو مرکزي کمیسیون تصمیمونو ته په پام ، لازمي سمونې او په رای پاڼه کې د نوماندانو د موقعیت ټاکل د پچې له لارې د کمیسیون په مرکزي دفتر کې برابر او اعلانوي.
(۲)کمیسیون د نوماندانو وروستي نوملړ ته په پام رای پاڼې برابروي.
(۳)کمیسیون د ټاکنو په ورځ د نوماندانو وروستی نوملړ د رای ورکولو په مرکزونو کې نصبوي.

<u>په وروستي نوملړ کې شاملو نوماندانو ته د باورلیک ورکول:</u>

نهمه ماده:

کمیسیون هغونوماندانو ته چې وروستي نوملړ ته لاره مومي، د نوماندۍ د تصدیق باورلیکونه ورکوي.

**<u>د نوماندانو او سیاسي ګوندونو د چلند اصولو لاسلیک:</u>**

**لسمه ماده:**

غوښتنلیک ورکوونکي د نوم ثبتولو د غوښتنلیک په وخت کې، هغو ټاکنو ته په پام چې د نوماند په توګه ګډون په کې کوي، مکلف دی د نوماندانو او سیاسي ګوندونو د چلند اصول لاسلیک او کمیسیون ته یې وړاندې کړي.

**<u>انفاذ:</u>**

**يولسمه ماده:**

دا کړنلاره د تصويب له نېټې څخه نافذه او خپرېږي.